# لړلیک


د اردو ځانګې لنډه پېژندنه 2
د اردو ځانګې د آمر پيغام 2
د اردو ځانګې لنډه تاريخچه 3
تعريف،لرليد (Vision) 4
رسالت (Mission) 4
ارزښتونه (Values) 4
موخې (Objectives) 4
د اردو ځانګې ښکېلې خواوې (ستيک هولډران) 4
د اردو ځانګې د استادانو پېژندنه 5
بنسټيز او غيربنسټيز امکانات او آسانتياوې 6
د اردو ځانګې کتابتون 6
د اردو څلورکلنې تحصيلې دورې کريکولم 8

**سریزه:**

د افغانستان اسلامی امارت د لوړو زده کړو محترم وزارت، په پوهنتونو کې د تدریس د لا ښه کولو په موخه د تضمین کیفیت برنامې له لارې هر تحصیلي بنسټ په دې مکلف دی، ترڅو د خپل بنسټ لپاره پلانونه او موخې ولري. دغه موخې باید د پوهنځي، پوهنتون او وزارت د ستراتیژیکو موخو سره سمي جوړې شي.

دغه برنامې، موخې او پروګرامونه باید په داسې توګه جوړ او پرمخ یوړل شي چې په اړونده رشته کې په علمي او عملي لحاظ ګټور تمام شي، نو په همدې موخه د شیخ زاید پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي د اردو څانګې خپله مرامنامه چې په لاندې ډول تشریح شویده تصویبوي.

په لومړي برخه کې سربیره په سریزه د اردو څانګې په مخینه بحث شوی دی، په دوهمه برخه کې د ودانۍ او زیربینایي اړتیاوو په هکله بحث شوی دی. په دریمه برخه کې اکاډمیکي څېړني، علمي څېړني، په ټولنه کې د څانګې ښکېلتیا او اغېز او ټکنالوجي تر بحث لاندې نیول شوي ده. په څلورمه برخه کې ظرفیت لوړونه تر بحث لاندي نیول شوي ده او په پنځمه برخه کې مالي خپلواکي او بودیجه تر بحث لاندي نیول شوي ده، چې څانګې تشکیلات او جوړښت تر بحث لاندې نیسي.

**د اردو څانګي آمر پيغام**

له پخوا څخه د انسانانو تر منځ د رابطې قايمولو افهام او تفهيم لپاره ژبه استعمال شوي ده، او مهمه دا ده چې په ټوله نړۍ کې د انسانانو تر منځ په سلونو ژبې ويل کېږي، چې په دې کې داسې ژبې هم شته چې مړې شوې دي، په بله معنی د تاريخ په اوږدو کې داسې ژبې هم شته، چې د وخت په تېريدو سره يې ويونکي په تدريجي ډول کميدل چې بالاخره د ويونکو شمير يې ختم او ژبې يې مړې شوې دي. په اوسني وخت کې داسې ژبې هم شته چې ويونکي يې د وخت په تيريدو سره کمېږي. که چېرې مونږ. خپل هيواد د مثال په ډول راواخلو، تر ديرشو پورې ژبې پکې ويل کېدلې، خو اوس دا تعداد ډېر را ټيټ شوی دی.
خو د بلې خوا نه په دې بايد هم پوه شو چې داسې ژبې هم شته چې د وخت په تيريدو سره يې ويونکي په تدريجي ډول زياتېږي. يو له هغو ژبو څخه اردو ژبه ده چې د نورو ټولو ژبو په پرتله، ډير ويونکي لري. د ويونکو د ډېرښت تر شاه يې ډير علتونه دي، د مثال په ډول: دا چې اردو ژبه يوه لښکري ژبه ده، چې په دې کې عربي، فارسي، انګريزي، هندي او داسې نوره ډېرې ژبې شاملې دي، چې په علمي ډګر کې ډېر پر مختګونه کړي دي، چې يو يې عملي مثال په دې ژبه کې د ادبي، عقيدوي، سياسي، مذهبي، ديني، سائنسي، اقتصادي، طبي او صحافتي معلوماتو برخه ده. په دې برخه کې داردو ژبې ويونکو او ليکوالانو ډير کار کړی دی او همداسې نورو علمي برخو کې د دې ژبې ويونکو ډير نوښتونه کړي دي، تر څو چې د دې پرمختګونو څخه استفاده وشي، نو د نورو ژبو ويونکو ته په کار دي چې اردو ژبه زده کړي. په اوسني حالاتو کې انګليسي، عربي او فارسي ژبې څخه وروسته د ژبې ته د پرمختګ ژبه هم وايي، چې تر ډيره حده دا ادعا سمه هم بريښي. د پورته او دې ته ورته نورو علتونو ته په کتو اردو ژبه د نورو ژبو په پرتله په نړۍ کې ډېر ويونکي لري.
اردو ژبه د ځينو هيوادونو لکه د هندوستان، پاکستان د وګړو مورنۍ ژبه ده. او په يادو هېوادونو کې اردو ژبه د هغوی رسمي او د تدريس ژبه ده او همدارنګه بيا په ځينو هيوادونو کې د خارجي ژبې په حيث کاريږي. په تيرو لسيزو کې په افغانستان کې د اردو ژبې ويونکو شمېر نسبت نورو هيوادونوته، ډيرکم و، خو په تېرو دوو لسيزو کې يې شمېر ډېر زيات شو او په زياتېدو دی.همدارنګه د هندوستان، پاکستان، او خليج هېوادونو سياسي، مذهبي، کلتوري، اقتصادي اغېز او اړيکې د دې باعث شوې، چې په افغانستان کې د اردو ژبې اهميت نور هم زيات شي او نومورې اهميت د ژوند په مهمو برخو لکه په اقتصادي، سياسي، فرهنګي او تعليمي برخه کې راښکاره شوی دی. اوس د اسلامي امارت په راتګ سره د خارجي ژبو زده کړو ته لا پام زيات شوی دی چې يو د هغو له جملې څخه اردو ژبه هم ده. سربېره پردې يې د اردو څانګې د پرمختګ لپاره خپله توجه لا زياته کړې ده.

نامزد پوهنيار ابراهيم ميرزات خان
د اردو څانګي آمر

**د اردو څانګي لنډه پېژندنه**

افغان پوهنتون تازه په تازه له پېښور څخه خوست ولایت ته را انتقال شوی وه، د خوست هوا لا د پوهنتون لپاره تیاره نه وه. په پخواني میخانیک لیسه کې څو تنه علمي کادرونه سره یو ځای او د هېواد د فکري روزنې او رغوني رڼاوې یې وپشلي، د علمي ادرسونو په دود د ګوتو په شمار پوهنځي وو، چې په ۱۳۹۱ ل کال کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځی مستقل د څلور څانګو پښتو، دری، انګلیسي او د اردو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر ښاغلي حامد کرزي مرستیال زلمي هېوادمل په غوښتنه ایجاد شو.

دا چې هغه وخت ته په کتو د اردو څانګه د زیاتو مشکلاتو سره مخ او وړ امکانات یې نه درلودل، نو یو لړ ننګوني یې په مخ کې پراتې وې. تر ۱۳۹۶ کال پورې یې هیڅ کادري غړي نه درلودل، ټول درسي بهیریې د قراردادي استادانو پرمخ وړ، او یو لوی خنډ او ننګونه خو دا وه چې درسي مواد او ځانګړي درسي ټولګي یې نه لرل تر څو محصلین په منظم ډول په ټاکلي ځای کې د تدریس په پار راسره راټول شي، خوشبختانه په ۱۳/۹/۱۳۹۶ نېټه د درېو تنو کادري غړو تقرر په یاده څانګه کې وشو، نو څانګې ورځ تر بلې د ارتقا په مسیر حرکت پیل وکړ. د درسي موادو خنډ او هوارولو په پار په څانګه کې مناسب کتابتون پرانېستل شو، چې درې نیم سوه شاوخوا کې درسي کتابونه پکې ځای پرځای شول، همداشان درسي ټولګي هم په منظم تعمیر کې ورکړل شول.

یادې څانګې له شته امکاناتو څخه په سم ډول استفاده وکړه په پایله کې یې مجموعاً اته دورې فارغین ټولني ته دخدمت په موخه وړاندې کړل.

د پوهنې بهیر له خورولو سره په موازي ډول د اردو څانګې په بهبود کې هم ښه والی راغی، د یادې څانګې د خدمت ساحه پراخه شوه، تردې دمه یې تر درې سوه شاوخوا کې محصلین فارغ کړي دي، او کابو د تر دوه نیم سوه پورې محصلین په یاده څانګه کې په زده کړو بوخت دي.

اوس مهال ټول ټال درې تنه استادان په څانګه کې شتون لري چه تر لیسانس کچې زده کړې لري. یاده څانګه په ډېر اخلاص او مینې د هېواد بچیان روزي او د ځوان کهول روزنه د ځان مکلفیت او مسولیت ګڼي. له درنو هېواد والو څخه تمه لري چې د یادې څانګې اړوند خپل نظریات، مشورې او سالمې نیوکې د یادې څانګې د پرمختګ او غني کولو په نیت راسره شریکې کړي.

## د ژبو او ادبیاتو پوهنځي اردو څانګي تعریف، لرلید، رسالت، ارزښتونه او موخې: (۱۴۰۲-۱۴۰۶)

### ۱- د څانګي تعریف

اردو ژبه په اسلامي نړۍ کې دویمه د معلوماتو غني ژبه ده، چې تقریبا په ټوله نړۍ کې زیات شمېر ویونکي لري او اوس مهال اردو ژبه په شمالي امریکا او د اروپا په زیاتو هېوادونو، افریقا، اسیا او عربي هېوادونو کې لوستل کیږي ځکه چې په ژورنالیزم، ښوونه روزنه، تجارتي برنامو او ټرونونو، مذهبي او عقیدوي برخه کې، هنري او اجتماعي، تفریحي، همدا شان په شعري، خیالي او تصوراتي ادبیاتو کې ترې استفاده کیږي.

### لرلید Vision

د اردو ژبې او ادب څانګه به د خپلې پراخي علمي او ادبي پانګې پرمټ وکولی شي چې د سیمې او هېواد په کچه مشترک ارزښتونه وپالي او د خپلې علمي پانګې د انتقال ترڅنګ به د نورو ژبو علمي پانګې ته په خپله غېږه کې ځای ورکړي.

### رسالت Mission

اردو څانګه خپل ستراتیژیک پلان ته په کتو او د نړۍ له نورو غوره پوهنتونونو سره د هوکړه لیکونو پرمټ د اردو ژبې او ادب په ګاڼه سمبال محصلان خپلې ټولنې ته وړاندې کوي، ترڅو د هېواد په معنوي او مادي فرهنګ کې رغنده ونډه واخلي.

### ارزښتونه (Values)

۱- په یوې پاکې ملي او اسلامي روحیې پر اساس د هیواد ملي ارزښتونو ساتنه.

۲- معیاري او باکیفیته لوړې زده کړې.

۳- د خیړنې په واسطه د ټولنې او هیواد ښوونیز، اقتصادي او کلتوري ستونزو حل.

۴- علمي او اکاډمیکه آزادي.

۵- نوښت او پرمختګ ته ژمنتیا.

۶- ټولنې ته د ګټورو کړنو تر سره کولو ژمنتیا.

**دڅانګې موخې**

د اردو ژبې فارغ التحصیل وکړی شي:

۱-د یوې سوچه، کره، ادبي ژبې د مهارتونو په اساس به په دولتي او خصوصي سکتورونوپه بېلا بېلو برخو کې دندې تر سره کړي.

۲-د اردو څانګې محصلین به د ادبپوهنې او ژبپوهنې علومو په اساس د افهام او تفهیم، د ډلیزو کارونو مهارتونه، تخلیقي، بهرنۍ، نوښتګر، فکري مهارتونه او ښوونیزې رهبرۍ مهارتونه زده او په عملي ډګرکې به ترې سالمه استفاده وکړي.

۳-د ټولنیز او رسنیز متون د ژبنې اصولو په پام کې نیولو سره په معیاري او روانه ژبه شننه او ایډیټ وکړي.

۴-د ادبي او هنري لیکنو په اساس به ټولنیز شعور لوړ او عامه افکارصیقل کړي.

۵-د ټولنې اړتیاوو ته په کتو، لکه: سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ودې لپاره به څېړنې ترسره کړي.

۶-محصلین به وکړی شي چې د اردو ژبې منظوم او منثور په ملي ژبو (پښتو او دري) او له ملي ژبو څخه په اردو ژبه وژباړي.

**متواقعه پایلې**

۱- فارغ التحصیل به د اردو ژبې اړونده مهارتونه ترلاسه کړي.
۲- فارغ التحصیل به د اردو ادبیاتو او ژبپوهنې په برخه کې پوهه تر لاسه کړي.
۳- فارغ التحصیل به په اردو ادبیاتو کې د تحقیق اوڅېړنې قابلیت ولري.
۴- فارغ التحصیل به د ژباړې په واسطه خپله ملي ژبه بډایه کړي.
۵- فارغ التحصیل به د ژورنالیزم په ډګر کې کاري وړتیا تر لاسه کړي.
۶- فارغ التحصیل به د ډیپلوماټیکې ساحې اړوند: وزارت خارجه، سفارتونو او کونسلګریو کې د دندې داجرا کولو توانایي تر لاسه کړي.
۷- فارغ التحصیل به په اکاډمیک ډګر کې د کادر په حیث او نورو مختلفو ښوونیزو ادارو کې په دندو وګمارل شي.

**د اردوڅانګې ښکېلې خواوې (ستیک هولډران)**

په لنډ ډول لاندې اشخاص او ادارې د اردو څانګې سره ښکېلې خواوې ګڼل کیږي:

1. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رهبري
2. د اردو څانګې ټول رسمي استادان
3. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي نورې څلور څانګې ( دري، انګلیسي، عربي او پښتو)
4. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي اداري کارکوونکي
5. د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
6. برحال او فارغ محصلان
7. سیمه ییزې رسنۍ (چاپي، غږیزې او تصویري)
8. د خصوصي سکتور اړوند اداري او سازمانونه
9. معارف ریاست

# د اردو څانګې د استادانو پېژندنه

| استادان | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | نوم | تحصیلي درجه | علمي رتبه | رشته | د تقرر نېټه | دنده |
| ۱ | ابراهیم میرزات خان | لیسانس | نامزد پوهنیار | اردو | ۱۳۹۶/۶/۱۳ | د څانګې آمر |
| ۲ | عبدالرحمن ژنی | لیسانس | نامزد پوهنیار | اردو | ۱۳۹۶/۶/۱۳ | استاذ |
| ۳ | عبدالرشید رشید | لیسانس | نامزد پوهنیار | اردو | ۱۳۹۶/۶/۱۳ | استاذ |
| ۴ | عبدالخالق صیاد | لیسانس | نامزد پوهنیار | اردو | ۱۴۰۳/۸/۱۰ | استاذ |

**بنسټيز او غيربنسټيز امکانات او آسانتياوې**

**تعمير:** اردو څانګه ځانګړی تعمير نه لري؛ په موجوده دوه پوړيزه ودانۍ کې، په يو اطاق کې ځای پر ځای شوي؛ په اول منزل کې يوازې څلور درسي خونې په واک کې ورکړل شوې دي، چې په هغه کې هم د سهار له خوا څخه د دري څانګې محصلان درس وايي او د ماسپښين له خوا څخه د اردوڅانګې محصلان پکې زده کړې کوي.

**د اردو څانګې کتابتون**

اردو څانګه که څه هم د ځای د نشتون له امله کوم خاص کتابتون نه لري، خو په څانګه کې د مسلک اړوند يو څه کتابونه شتون لري، چې استادان او محصلان ورڅخه ګټه اخلي.



| فیکلټۍ آف زبان وادبیات شعبہ اردو/ اول کال | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اول سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Belief System of Islam) | SL.IC.0171 | 2 | تول شمول | اسلامی ثقافت (اعتقادي نظام) | 1 |
| 2 | Islamic Culture (Recitation and Tajweed) | SL.IC.0172 | 1 | تول شمول | اسلامي ثقافت (تلاوت او تجوید) | 2 |
| 3 | Study Skill | L.L.urdu-102 | 2 | اساسی | مہارت تعلیم(1) | 3 |
| 4 | computer | L.L.urdu-103 | 1 | عمومي | کمپیوټر | 4 |
| 5 | psychology | L.L.urdu-104 | 1 | عمومي | روانشناسی | 5 |
| 6 | Reading | L.L.urdu-105 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(1) | 6 |
| 7 | conversation | L.L.urdu-106 | 2 | اساسی | محاوره(1) | 7 |
| 8 | Grammar | L.L.urdu-107 | 3 | اساسی | گرامر(1)علم هجا | 8 |
| 9 | English | L.L.urdu-108 | 2 | عمومي | انګلش | 9 |
| 10 | Pashto | L.L.urdu-109 | 2 | عمومي | پشتو | 10 |
| 11 | Writing | L.L.urdu-110 | 2 | اساسی | لیک(1) | 11 |
| Total credits | | | 21 | تول کرېډیټونه | | |
| دوهم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Worship System of Islam) | SL.IC.0273 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | 1 |
| 2 | Islamic Culture (Biography of Prophet (PBUH ) | SL.IC.0274 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (سیرت) | 2 |
| 3 | conversation | L.L.urdu-202 | 2 | اساسی | محاوره(2) | 3 |
| 4 | English | L.L.urdu-203 | 2 | عمومي | انګلش | 4 |
| 5 | Grammar | L.L.urdu-204 | 2 | اساسی | گرامر(2)علم صرف اوله برخه | 5 |
| 6 | Reading | L.L.urdu-205 | 2 | اساسی | نثر(پڑھنا)(2) | 6 |
| 7 | Writing | L.L.urdu-206 | 2 | اساسی | لیک(2) | 7 |
| 8 | Pashto | L.L.urdu-107 | 2 | عمومي | پشتو | 8 |
| 9 | Modern History of AF | L.L.urdu-209 | 2 | عمومي | افغانستان معاصر تاریخ | 9 |
| 10 | Study Skill | L.L.urdu-210 | 2 | اساسی | مہارت تعلیم(2) | 10 |
| Total credits | | | 20 | تول کرېډیټونه | | |

| فیکلټی آف زبان وادبیات شعبہ اردو/ دوهم کال | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دریم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Ethic System of Islam) | SL.IC.0375 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام) | 1 |
| 2 | Islamic Culture (Social System of Islam) | SL.IC.0376 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (د اسلام ټولنیز نظام) | 2 |
| 3 | psychology | L.L.urdu-302 | 1 | عمومي | پیدا کوژی | 3 |
| 4 | Dari | L.L.urdu-303 | 1 | عمومي | دری | 4 |
| 5 | Writing | L.L.urdu-304 | 3 | اساسی | لیک(3) | 5 |
| 6 | literature | L.L.urdu-305 | 2 | اساسی | ادب(1)اصناف نثر | 6 |
| 7 | Reading | L.L.urdu-306 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(3) | 7 |
| 8 | Grammar | L.L.urdu-307 | 2 | اساسی | گرامر(3)صرف دویمه برخه | 8 |
| 9 | conversation | L.L.urdu-308 | 3 | اساسی | محاوره | 9 |
| 10 | English | L.L.urdu-309 | 2 | عمومي | انګلش | 10 |
| Total credits | | | 21 | تول کریډیتونه | | |
| څلورم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Ideological Studies) | SL.IC.0477 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | 1 |
| 2 | Islamic Culture (religions and sects) | SL.IC.0478 | 1 | تول شمول | اسلامي ثقافت (ادیان او مذاهب) | 2 |
| 3 | Writing | L.L.urdu-402 | 2 | اساسی | لیک(4) | 3 |
| 4 | Grammar | L.L.urdu-403 | 2 | اساسی | گرامر(4) نحو | 4 |
| 5 | transition | L.L.urdu-404 | 3 | اساسی | ترجمہ(1) | 5 |
| 6 | conversation | L.L.urdu-405 | 2 | اساسی | محاوره | 6 |
| 7 | Reading | L.L.urdu-406 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(4) | 7 |
| 8 | English | L.L.urdu-407 | 2 | عمومي | انګلش | 8 |
| 9 | Dari | L.L.urdu-408 | 2 | عمومي | دری | 9 |
| Total credits | | | 19 | تول کریډیتونه | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فیکلټی آف زبان وادبیات شعبہ اردو/ درېیم کال | | | | | | |
| پنځم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Political System of Islam) | SL.IC.0579 | 2 | ټول شمول | اسلامي ثقافت<br>(د اسلام سیاسي نظام) | 1 |
| 2 | Islamic Culture (Administrative System of Islam) | SL.IC.0580 | 2 | ټول شمول | اسلامي ثقافت<br>(د اسلام اداري نظام) | 2 |
| 3 | Writing | L.L.urdu-502 | 2 | اساسی | لیک(5) | 3 |
| 4 | Linguistics | L.L.urdu-503 | 3 | اساسی | زبان شناسی(1) | 4 |
| 5 | transition | L.L.urdu-504 | 3 | اساسی | ترجمہ(2) | 5 |
| 6 | Principles of research | L.L.urdu-505 | 2 | اساسی | اصول تحقیق(1) اوله برخه | 6 |
| 7 | Reading | L.L.urdu-506 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(5) | 7 |
| 8 | literature | L.L.urdu-507 | 3 | اساسی | ادب(2)اصناف نظم | 8 |
| Total credits | | | 20 | ټول کرېډیټونه | | |
| شپږم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Economic System of Islam) | SL.IC.0681 | 2 | ټول شمول | اسلامي ثقافت<br>(د اسلام اقتصادي نظام) | 1 |
| 2 | literature | L.L.urdu-602 | 3 | اساسی | ادب(3)اصناف نظم دویمہ برخہ | 2 |
| 3 | transition | L.L.urdu-603 | 3 | اساسی | ترجمہ(3) | 3 |
| 4 | Linguistics | L.L.urdu-604 | 2 | اساسی | زبان شناسی(2) | 4 |
| 5 | Writing | L.L.urdu-605 | 2 | اساسی | لیک(6) | 5 |
| 6 | Principles of research | L.L.urdu-606 | 2 | اساسی | اصول تحقیق(2) دویمه برخه | 6 |
| 7 | | L.L.urdu-607 | 2 | عمومي | نړیوال سیاسی سازمان | 7 |
| 8 | Reading | L.L.urdu-608 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(6) | 8 |
| 9 | | | | | | 9 |
| Total credits | | | 19 | ټول کرېډېټونه | | |

| فیکلٹی آف زبان وادبیات شعبہ اردو/ څلورم کال | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اووم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Quran and Contemporary Sciences) | SL.IC.0782 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) | 1 |
| 2 | Reading | L.L.urdu-702 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(7) | 2 |
| 3 | literature | L.L.urdu-703 | 3 | اساسی | ادب(4) علم عروض | 3 |
| 4 | transition | L.L.urdu-704 | 3 | اساسی | ترجمہ(4) | 4 |
| 5 | Linguistics | L.L.urdu-705 | 3 | اساسی | زبان شناسی(3) | 5 |
| 6 | Writing | L.L.urdu-706 | 2 | اساسی | لیک(7) | 6 |
| 7 | Media | L.L.urdu-707 | 2 | عمومي | رسنی | 7 |
| | | | | | | |
| Total credits | | | 18 | تول کرېډيټونه | | |
| اتم سمستر | | | | | | |
| NO | Subject | Code Number | credits | مضمون کی نوعیت | مضمون | نمبر شماره |
| 1 | Islamic Culture (Islamic Civilization) | SL.IC.0883 | 2 | تول شمول | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | 1 |
| 2 | transition | L.L.urdu-802 | 3 | اساسی | ترجمہ(5) | 2 |
| 3 | (I P C O) | L.L.urdu-803 | 2 | عمومي | بین الاقوامی تعلقات | 3 |
| 4 | Linguistics | L.L.urdu-804 | 3 | اساسی | زبان شناسی(4) | 4 |
| 5 | literature | L.L.urdu-805 | 3 | اساسی | ادب(5)ادب تاریخ | 5 |
| 6 | Environmental protection | L.L.urdu-806 | 1 | عمومي | چاپیریال ساتنه | 6 |
| 7 | Reading | L.L.urdu-807 | 3 | اساسی | نثر(پڑھنا)(8) | 7 |
| 8 | conversation | L.L.urdu-808 | 2 | اساسی | محاوره(3) | 8 |
| 9 | | | | | | 9 |
| Total credits | | | 19 | تول کرېډيټونه | | |

اردو څانگي کريکولم د څانگي( 2 ) پرتوکول او / 27 / 02/ 1401 نیټه غونده کي د رايو په يوالي سره تاييد شو.

د اردو څانگي کريکولم د ژبواو ادبياتو پوهنځی علمي شورا ( 2 ) پرتوکول 28 / 02 / 1401 نیټه غونده کي د رايو په يوالي تاييد شو.